# په سن ډیاګو منطقه کې د مهاجرت د مامورینو سره د مخامخ کېدو په صورت کې څه باید وشي؟

**۱- تاسو تل د چوپ پاتې کېدو حق لرئ:** آرام واوسئ. که د مهاجرت مامورین له تاسو څخه پوښتنه وکړه، تاسو کولی شئ و وایاست: زه خپل د چوپ پاتې کېدو حق څخه استفاده کوم. هیڅکله دروغ مه وایاست او جعلي اسناد مه وړاندې کوئ.


**۲- څوک باید د مهاجرت اسناد له ځان سره ولري؟:**


- د امریکا تابعینو ته اړتیا نشته چې د تابعیت اسناد له ځان سره ولري.
- که تاسو د ۱۸ کالو څخه پورته عمر لرئ او د مهاجرت قانوني اسناد (لکه ویزه یا ګرین کارت) لرئ، نو د فدرال قانون وایي چې باید دا اسناد له ځان سره ولرئ، او که د مهاجرت مامور پوښتنه وکړي، باید یې وړاندې کړئ.
- که تاسو ته د اسنادو ښودلو اړتیا نه وي یا مو د مخه ښودلي وي او لا هم نیول شوي یاست، نو پوښتنه وکړئ : ایا زه نیول شوی یم؟ که ځواب (هو) وي، د دلیل پوښتنه وکړئ. که ځواب (نه) وي، نو وواياست : ایا زه کولای شم لاړ شم؟ که هو وي، نو له هغه ځایه سمدلاسه لاړ شئ. دا پوښتنې تر هغې تکرار کړئ چې اجازه درکړل شي.

**۳- که تاسو پیاده یا د یو ترانسپورتي وسیله لکه موټر، بس، کښتۍ، ریل، الوتکه کې یاست:**

د ځمکنی او سمندري مرز څخه د ۱۰۰ مایلو په شاوخوا کې (چې پوره سن ډیاګو او د کالیفورنیا ډېری برخې پکې شاملې دي)، د مهاجرت مامورین دا صلاحیت لري چې تاسو ودروي. آرام واوسئ، او اسناد یوازې هغه وخت وښایاست چې ضرورت وي (پورته برخه وګورئ). مامورین ممکن ستاسو د تلاشي غوښتنه وکړي، خو باید یا د محکمې (قاضي) لیکلی حکم ولري یا ستاسو رضا. پوښتنه وکړئ : ایا تاسو د محکمې حکم لرئ؟ زه تلاشۍ ته اجازه نه ورکوم او موافق نه یم. که هغوی له اجازې بدون تلاشي وکړي، مداخله مه کوی، دا کار وضعیت نور هم خرابولای شي. د مامورینو څېره او بڼه په یاد وساتئ څو وکولای شئ وروسته شکایت وکړئ.

**٤- که یو مامور ستاسو کور ته راشي:** که ستاسو کور د ځمکنی یا سمندري مرز څخه د ۲۵ مایلو په شاوخوا کې وسی (لکه د سن ډیاګو ټولې سیمې کی)، د مهاجرت مامورین دا صلاحیت لري چې ستاسو شخصي ملکیت ته لکه د دروازه مخکنې سرک، برنده ، یا پارکینګ کی داخل شي ، خو هغوی نشي کولای پرته له قاضي له خوا صادر شوي حکم ستاسو شخصی کور ته ننوځي. دروازه مه خلاصوئ. لومړی پوښتنه وکړئ: ایا تاسو د محکمې حکم چې له یو قاضي لخوا لاسلیک شوی وي لرئ ؟ که وویل (هو)، نو ورته وواياست چې دا حکم دې تاسو ته د دروازې له لاندې یا د کړکی له لارې وښیي. د یو معتبر عدلی (محکمې) حکم باید دا مشخصات ولري:




- د حکم د پاڼه په سر کې باید (محکمه) لیکل شوی وي، نه ( د کورني د څارو امنیت وزارت)
- حکم باید د یو قاضي له خوا لاسلیک شوی وي، نه د مهاجرت اداری یو مامور له خوا.
- باید ستاسو دقیق آدرس پکې لیکل شوې وي، نه د ګاونډي یا تش ځای.
- مامورین یوازې کولای شي هغه کسان یا شیان ولټوي چې په حکم کې یاد شوي وي ، مګر که دوی یو موجه دلیل ولري چې خپل لټون پراخ کړي.

**۵- که یو مامور ستاسو د کار ځای، مکتب، یا بل ځای ته راشي:**

په سرحدي سیمو کې د مهاجرت مامورین د ټولنې په بېلا بېلو ځایونو کې لیدل شوی دی. دوی کولی شي عامو ځایونو ته لکه رستورانت، د انتظار خونه، یا هر بل ځای چې ولس ته خلاص وي داخل شي. خو هغوی نشي کولای خصوصي سیمو ته لکه دفتر، ټولګی، یا هرهغه بنده خونه داخل شي چې ولس ته خلاص نه وي، مګر که دوی د محکمې حکم یا ستاسو رضا ولري. هغوی یوازې کولای شي هغه کسان ولټوي چې په هغه ادرس کې وي چې په حکم کې لیکل شوې وي. یو کس مشخص کړئ چې د مهاجرت مامورین څخه وپوښتي: **ایا** تاسو حکم لرئ؟ زه د تلاشي اجازه نه ورکوم. په ټولو خصوصي ملکیتونو باندې یو نښان یا لیک ولګوئ چې پکې لیکل شوي وي :خصوصي **/** شخصي ملکیت

**۶- که تاسو د مهاجرت د مامورینو له خوا ونیول شئ:** که تاسو ونیول شئ، تاسو دا حق لرئ چې یو تلیفوني زنګ وکړئ، له خپل وکیل سره خبرې وکړئ، او یا له خپل قونسلګرۍ یا سفارت سره تماس ونیسئ. تاسو د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. هېڅ سند مه لاسلیک

کوئ که يې نه پوهېږئ. تاسو ته به د مهاجرت يو نمبر (A Number) درکړل شي. دا نمبر له خپلې کورنۍ، وکیل او قونسل سره هم شریک کړئ ترڅو چې دوی وکولای شي مرسته وکړي. که تاسو روغتیايي ستونزه لرئ، نو دا موضوع له هر هغه چا سره شریکه کړئ چې له نیول کېدو وروسته ورسره مخامخ کېږئ.

**۷- څنګه يو نیول شوی کس پيدا او مرسته ورسره** وکړو:

- د نیول شوي کس د A نمبر په لرلو، دې وېب سایټ ته لاړ شئ: [locator.ice.gov](locator.ice.gov) . د نیول شوي کس د مهاجرت A شمېره درسره مرسته کوي چې هغه ژرتره پيدا کړئ. دا امکان شته چې د نیول شوي کس نوم د مهاجرت اداري په سیستم کې څو ورځې وروسته ښکاره شي، په ځانګړي ډول که نیول کېدل د اونۍ په پای یا رخصتیو کې ترسره شوي وي.
- که د نیول شوي کس لپاره د مهاجرت دوسیه په کومه محکمه کې ثبت شوې وي، نو تاسو کولی شئ له دې شمېره سره اړیکه ونیسئ (۷۱۸۰-۸۹۸-۸۰۰) یا د دې وېب سایټ [acis.eoir.justice.gov](acis.eoir.justice.gov) له لارې معلومات تر لاسه کړئ. په یاد کی ولری چې د نیول شوي کس A نمبر لرل به ستاسو سره ډېر مرسته وکړي.
- د خپل شړلو (ډيپورټ کېدو) پر ضد د مبارزې لپاره، د سن ډیاګو کاونټۍ د مهاجرینو د قانوني دفاع له پروګرام سره له دې شمېره (۲۸۸۳-۴۴۶-۶۱۹) سره اړیکه ونیسئ یا له دې وېب سایټ څخه استفاده وکړئ: [https://cdss.ca.gov/inforesources/immigration/contractor-contact-information](https://cdss.ca.gov/inforesources/immigration/contractor-contact-information) یا له یو باوري قانوني خدماتو وړاندې کوونکي سره په ارتباط ښې.
- د مکسیکو قونسلګری شمېره او ویب سایټ: (۷۸۷۴-۶۲۳-۵۲۰) [- https://www.gob.mx/ciam](https://www.gob.mx/ciam) . د نورو قونسلګرۍ د موندلو لپاره دا وبسایت ته [bit.ly/embassycontacts](bit.ly/embassycontacts) مراجعه وکړی.

**۸- که تاسو له دوو کلونو نه کم وخت په امریکا کی یاست:** هغه کسان چې د امریکا دننه کې له دوو کلونو لږ وخت تیر کړی، کولای شي پرته له دې چې قاضي ته د حاضرېدو حق ولري، وشړل (ډيپورټ) شي، مګر که دوی ووايي چې له خپل هېواد ته ستنېدو وېرېږي او د باور وړ وېرې مرکه (انترویو) بریالۍ تېره کړي. په سرحدي سیمو کې اخراج (ډيپورټ) ډېر ژر، حتی په یوه ورځ کې هم ممکن دی. که تاسو له دوو کلونو نه زیات وخت راهیسي دلته تېر کړی، ډېر مهمه ده چې له ځان سره داسې اسناد ولرئ چې دا خبره ثابته کړي، لکه د کالیفورنیا د ډرېورۍ جواز یا پېژند پاڼه (ID) چې د دوه کالو نه پخوانۍ د صدور نېټه ولري.

**۹- که تاسو د قانون مامورینو کوم اقدام (عملیه) ولید:** تاسو حق لرئ چې دا پېښه ویډیو ثبت (ریکارډ) کړئ. چاروکي نه شي کولای تاسو، ستاسو تېلفون، یا ستاسو سامانونه پرته له د محکمې حکم (د قاضی اجازه) یا د باور وړ دلیل وپلټي. تاسو دا حق لرئ چې پلټنه رد کړئ. ووایاست : زه د تلاشي اجازه نه ورکوم. که دوی پرته له اجازې تاسو تلاشي وکړي، له مقابلې څخه ډډه وکړئ، دا کار حالات نور هم خرابولای شي. تاسو وروسته کولای شئ دا غیرقانوني پلټنه له قانوني لارو ونګوئ. خپل ویډیوګانې (ریکارډونه) له نورو سره شریک کړئ، تر څو خلک پوه شي چې څه روان دي. له نیونې سره مقابله مه کوئ ځکه دا کار نه یوازې د نیول شوي کس لپاره خطرناک دی، بلکې تاسو هم نیول کېدای شئ او فدرالي تورونه دربانديې لګېدای شي. دا کار همدا راز د هغو کسانو له پام او منابع اړوي چې واقعاً مرستې ته اړتیا لري. تاسو تر ټولو ښه مرسته کولای شئ که تاوتریخوالی ونه کړئ، پېښه ثبت کړئ، او دا معلومات له نورو سره شریک کړئ، تر څو نور هم خبر شي.

**۱۰- همدا اوس يو بيړنی پلان جوړ کړئ:** د پلان جوړولو لپاره انتظار مه کوئ. همدا اوس ځان هر ډول بيړني حالت ته چمتو کړئ:

- خپل ټول مهم اسناد سره يو ځای کړئ، لکه د زیږون سندونه، پاسپورټونه، او نور د پېژندنې اسناد، او ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو کورنۍ غړي او بیرنی تماسونه خبر وي چې دا اسناد چېرته ايښي دي.
- یو کس مشخص کړئ چې کله اړتیا پیدا شي، وکولای شي ستاسو د ماشومانو، مشرانو یا هغو عزیزانو چې ځانګړې اړتیاوې لري پاملرنه وکړي. په دی وبسایت کې [https://www4.courts.ca.gov/documents/caregiver.pdf](https://www4.courts.ca.gov/documents/caregiver.pdf) د سرپرست د رضایت فورمه هم چمتو کړئ.
- خپل تېلفون او نور وسایل عددي پاسورډ وکاروئ (نه د ګوتې نښې یا بنې پېژندنې) تر څو ستاسو شخصي معلومات خوندي پاتې شي. دا کار دا هم اسانه کوي چې ستاسو باور وړ کس کله چې ستاسو ملعوماتو ته اړتیا پیدا شي، په اسانه دول لاسرسی ولري.
- خپلې کورنۍ او بیرنیو تماسونو ته دا لینک ورکړئ [locator.ice.gov](locator.ice.gov) :تر څو که د مهاجرت مامورینو لخوا ونیول شئ، هغوی وکولای شي تاسو پیدا کړي. که تاسو A نمبر لرئ، دا هم ورسره شریکه کړئ.
- همدا اوس د يوې باوري سرچينې څخه د قانوني کمک په اړه معلومات ترلاسه کړئ او د دوی د اړیکو معلومات له ځان سره ولرئ. دا وېب سایټ [https://cdss.ca.gov/inforesources/immigration/contractor-contact-information](https://cdss.ca.gov/inforesources/immigration/contractor-contact-information) باوري سرچيني وړاندې کوي:
- له خپلې کورنۍ سره خپل پلان شريک کړئ، تر څو هغوی پوه شي چې باید څه وکړي. د پلان په اړه خبرې کول مرسته کوي دوی په اضطراري حالت کې آرام پاتې شئ.